# میرعلي؛ په امنيتي ځواکونو برید او د 6 مزدورانو په شهادت کې ککړ ترهګر دوزخ ته استول شوی

دوې ورځې وړاندې د تحریک طالبان پاکستان خوارجو د میرعلي په سیمه کې د امنیتي ځواکونو په کاروان د برید هڅه کړې وه چې په وخت ځوابي کاروائي یې ناکامه کړې وه او ترهګر په تېښتې مجبور شوي وو.

امنیتي ځواکونو د تېښته کوونکي ترهګرو تعقیب کړی وو او د ډزو په تبادله کې د سخت ژوبل شوي ترهګر په ګډون دوه ترهګر په تېښته بریالي شول.

ځایي سرچینو تائید کړې ده چې د ټي ټي پي خدري ډلې سره تعلق لرونکي د یو ترهګر مړی چې د پورته ذکر شوو عملیاتو په مهال وژل شوی ؤ، د میرعلي سره نږدې کلي ته راوړل شوی دی.

بلخوا د سرچینو له مخې وژل شوي ترهګر په دې ورستیو کښې د میرعلي په موسکي سیمه کښې د 6 حجامو په شهادت کښې هم لاس درلود.

په میرعلي او شاوخوا سیمو کې امنیتي ځواکونه په پوره میړانه او مسلکیتوب سره ترهګر له منځه وړي. د بې ګناه هېوادوالو په شهادت کې ښکېل ترهګر د هېڅ رعایت مستحق نه دي او دوزخ ته د لیږلو لړۍ به روانه وي. انشاالله